Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د اشاروي ژبې بلاغي ارزښت ته کتنه

پوهنیار حمیدالله حمیدي*[1] پوهنیار نذیراحمد ریښتنی[2]

[1,2] پښتو ادبیاتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

د مسؤل ایمیل ادرس: hamidullahhamidi887@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۱۱/۱۴ منل سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۱۳ خپره سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-16 مخونه (۱۰۲-۱۱۷)

## لنډیز

الله تعالی انسان ته د عقل تر څنګ بېلا بېل مهارتونه ورکړي دي، یو مهارت یې د خپلو احساساتو د بیان ترڅنګ د اشاروي او بدني حرکت استعداد دی، چې د خپل درون د بیان لپاره یې په لاره اچوي، تر څو خپل عواطف او احساسات په مؤثر او مضمر ډول تر نورو ورسوي، په دې اشارو کې د لغتونو هغه پراخه معنا پټه ده، چې روزنیز رواني بنسټ لري؛ سره له دې چې اشاروي ژبه هم د انساني افکارو او خیالاتو د بیان ترجماني کوي. د اشاروي ژبې په بنه ټولو ملتونو خپلې ځانګړې اشارې لکه، تایید، رد، احترام ، خوښي، غم، خپګان، مینې، قبولیت، عزت، تمسخر او داسې نورو برخو کې ثبت کړې دي، چې ځینو یې نړیوال او ټولمنلې حیثیت غوره کړی دی او ځینې یې د هغه ولس په منځ کې د پوهاوي په موخه پاتې شوې دي. له ژبې سره بلاغت تړلی دی، خواشاروي ژبه د بلاغت په اعلی پوړ کې قرارلري، دا یوازې د معذورو کسانو لپاره نه، بلکې د غږیزې ژبې اکمال هم ورباندې کیږي، څکه غږیزه ژبه تقریبا له دیرشو تر څلویښتو فیصدو (۳۰ـ۴۰٪) ویل کیږي، مګر اشاروي ژبه له شپیتو تر اویا فیصدو (۶۰ـ ۷۰٪) کارول کیږي. د اشاروي ژبې لومړی بنسټ یونانیانو او بیا رومیانو ایښی دی، وروسته داسلامي تمدن په راټوکېدلو دعروج لوړې پوړۍ ته ورسیده، دا اشارې په دریو بڼو څرګندیږي، قراردادي، تصویري او غریزي بڼې لري، چې دلته هم ورڅخه موخه غریزي بڼه ده، چې د معنا استعاري او کنایوي بڼه وړاندې کوي. په قران کریم کې هم د اشاروي ژبې نمونې موجودې دي، څکه دا هغه اشاروي او بدني رموز دي، چې د معنا مؤثریت ور سره تړلی دی، څکه په ادب کې هم د بلاغي کلام د رنګینې او عاطفي هنر په توګه دا اشارات را وړل شوي دي؛ لکه:

عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرې کا
هر چــــې کار کا د دښمنو په ورمونه

**کلیدي کلمې:** دلالت، بلاغي عناصر، بلاغي ارزښت، اشاروي ژبه

## سریزه

په حقیقت کې غریزه وینا د انساني احساساتو او عواطفو د بیان ترجماني کوي، مګر اشاروي او بدني ژبه دې معنا اکمال له ځانه سره لري، بدني اشارې د دې معناوو مؤثر بیان دی، اشاروي ژبه هم د انسانانو تر منځ د اړیکو یوه مهمه او بنسټیزه وسیله ده، د مفاهیمو په انتقال کې د بلاغت په لوړه پوړۍ کې قرار لري، اشاروي ژبه نه یوازې د کلمو د ځایناستي په توګه کارکوي، بلکې د انساني احساساتو، افکارو او اړتیاوو د څرګندولو په برخه کې هم بلاغي ارزښت لري.

انسان فطرتا هم په خپله حافظه کې د یو شي تمثیل په اسانۍ اخیستلای شي، دا ځانګړې حرکات له کلماتو په غیر پیغام او احساسات انتقالوي، دا نښې د ظاهري نښو په څرګندولو باطني معنا لېږدوي د تندي له تریو والي نیولي تر خندا او نور حرکاتي حالتونه یې څرګندوی دي.

په دې علمي مقاله کې د تشریحي علمي مېتود تر څنګ له کتابتوني ډول څخه ګټه اخیستل شوي ده، تر څو د اشاروي او بدني ژبې په اړه داسې بېلګې چې زموږ شاعرانو او ادیبانو په شعري ژبه وړاندې کړې دي، راوړم ، په قران کریم کې به هم د اشاروي ژبې یوه نمونه وړاندې کړو.

تر څو د اشاروي ژبې له ارزښت او کارونې څخه باخبره واوسو، ځکه هر ملت د خپل فرهنګ اوکلتور له مخې ځانګړې د احترام نښې لري، زموږ غیور ملت هم د احترام ځانګړې نښه لري، چې په نورو فرهنګونو او ملتونو کې یې سارى نه لېدل کیږي، هغه لاس په سینه ایښودل دي.

### اشاروي بلاغي ژبه

په حقیقت کې د انسان ژبه په نورو مخلوقاتو د کرامت له فضایلو یو فضیلت ګڼل کیږي، ځکه ژبه د انسان دفاعي وسیله ده، د انساني دار و مدار تر ټولو اړین توکی یې ګڼلای شو، د منطق علم خو د بني ادم کلي تعریف په ژبه کوي، د ژبې ارزښت د هیڅ یو عاقل انسان له سترګو پټ نه دی، دلته به هغه د یو عالم خبره رانقل کړوچې وایي: ((که په اسمان کې له کلام او وینا نه غیر بل څه نښه وای، الله تعالی جل جلاله به د وحې پر ځای هغه نازل کړی وای.)) ( ناګار، ۱۳۹۸، ۷.مخ )

د ژبې زده کړه یېز استعداد الهي فطري ورکړه ده، مګر زده کول یې کسبي بڼه لري، له نورو ښکلو هنرونولکه خطاطي او نقاشي سره یې توپیر په دې کې دی، چې هغه یوازې د مادي او هر شي ظاهر ترسیمولای شي او بس، مګر ژبه د انسان دروني حالات، خیالات، تصورات، احساسات او نور

باطني عواطف د الفاظو په وسیله انځوروي. همدا یې د بېلتون سره کرښه شوه. (غضنفر ،۱۴۰۳، ۲۵. مخ)
عربي علماء وایې ژبه په عام ډول د ارایې دوه بڼې لري :

۱ـ غریزه ژبه

۲ـ اشاروي ژبه
انسانان د خپلو احساساتو د بیان لپاره له مختلفو مهارتونو څخه برخمن دي، یو مهارت او استعداد یې د غریزې ژبې دی، بل مهارت یې بدني او اشاروي اشارې دي، په دې اشارو کې د لغتونو هغه پراخه معنا پټه ده، چې روزنیز رواني بنسټ لري؛ سره له دې چې اشاروي ژبه هم د انساني افکارو او خیالاتو د بیان ترجماني کوي.
اشاروي ژبه هم د انسانانو تر منځ د اړیکو یوه مهمه او بنسټیزه وسیله ده، په ځانګړې توګه د هغو کسانو له پاره چې د خبرو کولو توان نه لري، یا په کافي اندازه په ګړنۍ ژبه نه پوهیږي، حیاتي ارزښت لري. اشاروي ژبه نه یوازې د کلمو د ځایناستي په توګه کارکوي، بلکې د انساني احساساتو، افکارو او اړتیاوو د څرګندولو په برخه کې هم بلاغي ارزښت لري.
د ژبې ترڅنګ انساني جوړښت یو بېل امتیاز لري، چې په ځینو وختونو کې له ځینو اشاراتو څخه استفاده کوي، انسان دا دواړه قابلیتونه لري، چې اشاروي او وییز سیستم بڼې اکمال کړي. د ژبې په وسیله انسان خپل افکار او تخیلات تر نورو پورې رسوي، څکه ژبه له اشاراتو او اوازونو جوړ شوی سیستم دی. (احمدي، ۱۴۰۱، ۵. مخ)
د ژبې وییزه بڼه عامه ده، کله چې انسان پیدا شو، د بیان او وینا توانایې یې درلوده، د دې ترڅنګ یې په خپله ویونکي ژبه کې د ځینو جملو، ترکیبونو او کلماتو لپاره ځانګړې اشارې درلودې، چې د هرې ژبې ویونکو اتفاق ورباندې کړی دی، څکه اشارې د بلاغت له مخې د اداینې اسانه او روانې وسیلې دي، چې نه د انسان انرژي ورباندې ضایع کیږي او نه یې د وخت د ضایع کېدو سبب کیږي.
څکه اشاروي ژبه خپله ځیني ټولنیز منلي مفاهیم له ځانه سره لري، اشاروي ژبه انساني ټولنه او وګړي د وخت له ضایع کېدو پرته د معنا معناییزعمق ته رسوي. دا اشارې په یوه ژبه کې نه بلکې د نړۍ په ټولو ژبو کې شته، د درنښت څخه نیولي تر لویو مسایلو پورې یې د اشاروي سمبولونو په

ډول د یو ملت وګړي په خپل منځ کې هم او په نړیواله کچه هم کاروي، نړیوال ستندرد یې د ډیپلوماسۍ یوه برخه ده، تر څنګ یې ځینې ژبنۍ او ادبي اشارې شته چې نه یوازې اکټ ورباندې کیږي، بلکې د یو ځانګړې مفهوم او معنا نماینده ګي کوي، په ډیپلوماتیکه اشاروي ژبه کې ځانګړې حرکات دي چې مرعاتول یې ضروري دي، د حقوقو او سیاسي علومو بېل بحث دی، مثلا له پوښتنې نیولې تر ناستې هرخه یې د ځانګړوحرکاتو او اشاراتو په رمزي تول تلل کیږي.

اشاروي ژبه د معذورو انسانانو لپاره په نړیواله کچه ځانګړې تګلاره لري، دا اشارې د یو ځانګړې علمي ژبې په توګه منل شوې دي، ځانګړې نصابونه او د اشارو ځانته علمي نظام یې د دې معذورو وګړو( ړندواو کڼو) لپاره جوړ کړی دی. اشاروي ژبې د ژبو په نړیوال کنوانسیون کې ثبت دي او په رسمي سلسلو کې الجزیره تلویزیون د دې کسانو لپاره ځانګړی خبري اشاروي پروګرام لري.

دا اشاروې ژبه د دې معذورو کسانو لپاره جوړه شوه، هغه کسان یا په غوږو کاڼه او په ژبه ګونګیان دي. په دې تګلارو کې د دوی لپاره د یو علم په توګه ځانګړې اشارې جوړې شولې، په دې اشارو کې د لاس او ګوتو د اشارو ترڅنګ نورې بدني اشارې هم شاملې دي.

د اشاروي ژبې په بنه ټولو ولسونو خپل ځانګړې اشارې د تایید، رد، احترام ، خوښي، غم، خپګان، مینې، قبولیت، عزت، تمسخر او داسې نورو برخو کې ثبت کړي دي، چې ځینو یې نړیوال او ټولمنلی حیثیت غوره کړی دی او ځینې یې تر هغو ملتونو محدودې پاتې دي.

(احمدي، ۱۴۰۱، ۷. مخ)

**اشاروي ژبې (Sign Language) تعریف:** اشاروي ژبه د ژبې یو ډول دی، چې د لاسونو، سترګو او بدن د حرکتونو په مرسته د اړیکو لپاره کارول کیږي. دا ژبه یوازې د معذورو کسانو لپاره نه، بلکې د ټولو ویونکو لپاره هم د بلاغت له مخې ځانګړی روش او اسانه مېتود دی، د هغو معذورو وګړو لپاره په ځانګړې توګه د افهام او تفهیم وسیله ده، ځکه یاد کسان له غریزو ژبوسره ستونزه لري، یا اورېدلی نه شي، یا په ژبه ګونګ دي، د دې کسانو لپاره اشاروي ژبه د یوې علمي سلسلې په توګه د اشاروي ژبې د ګرامر او جوړښت ځانګړی سیستم لري. (هنداوي، ۱۹۹۵، ۱۴۴. مخ)

مګر اشاروي ژبه د بلاغت په اعلی درجه کې قرارلري، یوازې د معذورو کسانو لپاره نه، بلکې د غریزې ژبې اکمال هم ورباندې کیږي، ځکه غریزه ژبه تقریبا له (۳۰ـ٪۴۰) ویل کیږي، مګر اشاروي ژبه له (۶۰ـ ٪۷۰) کارول کیږي.

اشاروي ژبه غیر کلامي اړیکه او ارتباط بلل کیږي، په دې بدني او اشاروي رمزونو کې پټې بلیغي معناګانې ځای پر ځای دي، چې همدا پیغام یې د همدې انساني اعضاوو په واسطه صورت نیسي، چې په دیني، فرهنګي او ادبي میدان کې بېلې معناګانې لیږدوي، د انساني پاملرنې تر ټولو اهمه وسیله اشاروي ژبه ده، ځکه د رمزونو ترکیب دی؛ ځانګړې دلالتونه لري. (مهدي، ۱۴۰۰، ۱۶. مخ)
اشاروي ژبه مختلف دلالتونه اومعناګانې وړاندې کوي، چې هغه دلالتونه د عواطفو، خپګان، خوښي، افسوس، امیدواري، ناهیلي او داسې نورې بېلې وړاندې کولای شي، اشاروي ژبه یوه مهمه موضوع ده، چې زموږ علماوو او ادیبانو ډېره توجه ورته کړې ده، چې په ادبي لیکنو کې یې د رمزي معنا د انتقال لپاره زیاته کار کړې ده.
په غربیزه برخه کې بلاغت په لفظ او معنا دواړو پورې تړلې ده، مګر په اشاروي ژبه کې بلاغت یوازې د ښنو له یادونې سره تړاو لري، ځکه چې دلته اشاروي حرکات خپله معنا او مفهوم په بشپړ ډول انتقالوي، دلته همدا بدني حرکات خپله اشاروي ژبه تشکیلوي.
**د اشاروي ژبې مخینه:** د اشاروي ژبې بنسټ ایښودونکي یونانیان او رومیان دي، چې په خپلو تمدني حوزو کې یې د اشاروي ژبې په برخه کې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کړي دي، د اشاروي ژبې مخېنه تقریبا (۲۰۲۴ق م) قبل المیلاد زمانې ته رسېږي؛ بدني او اشاروي ژبه د احساساتو او تاثراتو انساني روح ګڼل کیږي.
وروسته دې برخې ته مسلمانانو ډېر وسعت ورکړ، ځکه قران کریم یو بلیغ کتاب دی، همدې رموزو ته پکې ځانګړی ځای ورکړل شوی دی، د نبي علیه السلام په مبارکو احادیثو کې هم د دې رموزو بېلې بېلې راغلي دي، چې د پوهاوي په برخه کې یې مهم رول اداء کړی دی، د دې مقالې د یوې برخې په توګه به بیان شي، وروسته عربي تمدن تر ټولو دې برخې ته زیاته پاملرنه کړې ده. (هنداوي،۱۹۹۵، ۱۳۳.مخ)
عربي علماوو دې برخې ته ځانګړې پاملرنه کړې، نوموتي اثار په دې برخه کې لیکل شوي دي، د عربو لوی عالم جاحظ هم په خپل مشهور اثر کې د وروځو پورته کول، د سترګو غړول، د شونډو چیچل، د غاړې کږول اود مخ ګونځې ذکر کړې دي،خپله دا نوموتی عالم سترګې له حب او بغض څخه اشاره ګڼي.( هنداوي، ۱۹۹۵، ۲۳۲. مخ)

په شپاړسمه(۱۶) میلادي پېړۍ کې فرانسیس بیکن اشاروي ژبه د یو علمي روش په توګه وړاندې کړه، له هغه وروسته تقریبا (۱۶۵۵م)کال کې جان بالورد د بیکن مطالعاتو ته پراختیا ورکړه، مګر په اتلسمه پېړۍ کې چارلز ډاروین د دې ژبې لپاره ځانګړې جوړښتونه او پرنیسپونه وضع کړل.
(عطاشي، ۱۳۹۷، ۱۰. مخ)

د اشاروي نښو ډولونه: په اشاروي ژبه کې دا بدني او اشاروي نښې څو بڼې لري، چې دا نښې د درنښت خخه نیولي د انسان له ظاهر او درون دواړه حالتونه ښودلای شي اوهره ټولنه د اشاروي ژبې خپل ځانګړي معیارونه لري.
دا اشاروي نښې په دریو ډولونو ویشو:
**لومړی:** قراردادي نښې
**دویم :** تصویري نښې
**دریم :** غریزي یا دروني نښې
(غضنفر،۱۴۰۳، ۱۳. مخ)
لومړی: قرار دادي نښې د انسان د ژبنې لنډون منلي اشارې او بدني حرکتونه دي، چې نړیوال اوټولمنلي ترون لري، دا ترون به د یوې ژبې د ویونکو په سطحه، یا د یو ګروپ ژبو د ویونکو ترمنځ وي او یا به د ژبو د نړیوالو کورنیو په کچه د منلو وړ وي، لکه د هرې ټولنې وګړي د درنښت او استهزاء بېلې نښې لري، چې په ملي او نړیواله کچه بېل مفاهیم لرلای شي، په ځینو فرهنګونو، ډلو او افرادو کې بېل بېل حالتونه لري لکه: د وروځو لوړوالی د تعجب نښه ده، سر ښکته پورته ښورول د متکلم خبرې تاییدول، سر له یوه لوري بل لوري ته وړل د متکلم د خبرو د نفې په معنا کارول کیږي، یا زموږ د افغاني ټولنې د درنښت نښه ( لاس په سینه ایښودل) دي، د استهزاء لپاره هم بېلې بڼې لرو.
د اوسنۍ مډرن عصر په سوشیل میډیا کې د تایید، خپګان، ژړا، خوښي، قبول او داسې نورې اشارې چې تقریبا ټولمنلی حیثیت لري، په قراردادي سمبولونو اونښو کې شاملولای شو، چې هغه د لاس، ګوتو، اشارو، زړه او داسې نورې بڼې لري؛ د یو چا د خبرو د تایید لپاره د لایک یا لاس یو ډول تایید ورکوي، د قبولنې او ډېرې خوښونې لپاره چې خپل عواطف هم ورسره وښيې د زړه بڼه یا شکل وړاندې کوي. یا په بل ډول ویلای شو، د یو چا د خبرو تایید لپاره سر ښکته پورته

خوځول د مثبت ځواب په معنا دی، مګر د یوې او بلې اوږې لورته حرکت ورکول د منفي ځواب په معنا کارول کیږي.(ناګار، ۱۳۹۸، ۷۴. مخ)

دویم: تصویري نښې زیاتره وخت د ژبې سره هم مهال د غږیزې ژبې د کومکي ژبې په توګه کارول کیږي، چې زیاتره وخت په وګړنۍ ژبه کې د کارونې وړ دي، لکه په تدریس، وینا، خطابت او داسې نورو کې کارول کیږي. د خبرو او وینا موثریت لس چنده زیاتوي، ځکه د مقابل لور د خستګي په کمولو، عواطفو را ویښولو، اسانه یادولو تر څنګ نورې ډېرې ګټې لري.

په تصویري نښو کې عموما د خبرو تمثیل او ترسیم ایستل کیږي، چې مفاهیم په دایمي حافظه کې ثبتوي، کوم خلګ چې د وینا په مهال له اشاروي او بدني ژبې استفاده کوي، د وینا موثریت او اغېز یې ډېر زیات وي، که په تدریس کې استاد له دې نښو نښانو څخه ګټه واخلي، کېدای شي د خپل حالت او اشاروي ژبې په مهارت سره علمي پانګه په ډېر اغېزمن ډول نقل کړي، ځکه اشاروي ژبه د زده کړې په انتقال کې مرسته کوي، زده کړه یو په دوه چنده زیاتوي، استادان یې باید په عمل کې وښیې ، ځکه زده کړه یوازې په ذهن لیکل نه بلکې په ترسیمي ډول ذهن ته سپارل کیږي؛ ترسیم له بدني ژبې پیدا کیږي، د علم د مینوالو خستګي کموي، د انګېزې د تولید باعث کیږي، ځکه ځیني وخت کلمات یوه معنا په ایجاز(لنډون) نه شي وړاندې کولای؛ خو اشاروي او بدنې اشارې احساسات اوعواطف په بشپړ ډول انتقالولای شي. (مهدي،۱۴۰۰، ۱۷. مخ)

بدني حرکات، اشارې، د لاس او مخ په ژبه احساسات، خندا، توجه کول او داسې نور یو موثر تدریسي مېتود ګڼل کیږي، د استاد او شاګرد ترمنځ د زده کړې د اسانتیا موثره لاره همدا ده، د انګېزې د تولید، علاقه مندي، یادولو او مهارتونولوړول د اشاروي ژبې په ذریعه صورت نیسي. د زده کوونکو دجذب قوه پیاوړې کوي، دا اشاروي او بدني انداز په دوه شکله رامنځ ته کیږي:

**الف:** اشارې او بدني ژبه د استاد او زده کوونکي تر منځ د وسیلې په توګه کارول.

**ب :** اشاروي او بدني ژبه د استاد او زده کوونکي ترمنځ د مفاهیمو او اصطلاحاتو د ارایې د بنسټ په ډول چې احساسات او تفکرات په موثر ډول انتقال کړي.( مهدي،۲۱،۱۴۰۰. مخ)

په دې تصویري نښو کې د انسان وروځې، سترګې، خوله، غاړه، مخ، لاسونه، اوږې او ټول وجود پکې شامل دي.

**دریم :** غریزي یا دروني نښې چې د انسان د باطني احساساتو او عواطفو څرګندونه کوي، ځکه هیڅ یوه نښه په خپل ذات کې معنا نه لري، مګر ټولنیز قرارداد ورباندې شوی دی، په دې مقاله کې

هم تر ډېره دا دریم ډول موخه په پام کې ده؛ څکه ژړا، خندا، خوښي، غم، یقین او داسي نور حالتونه له احساس سره تړون لري.

روانپوهان کولای شي، د دې نښو او اشاروي حرکاتو څخه د هغوی احساسي حالت معلوم کړي او د دا ډول رواني رنځور د رنځ تشخیص له دې اشاروي حرکاتو اونښو نښانو وکړي، دا هره اشاره اونښانه بېل مفهوم او معنا لري، یوازې د معنا وو تعبیریې مهم دی، لکه لاس ډېرې دندې لري، الله پاک انسان ته د یوې سترې عضوې په توګه ورکړی دی، که لاسونه نه وي د انسان ژوند به له بلا ستونزو او مشکلاتو ډک وي؛ د لاس دندې د یو څیز رانیول، ور باندې خوړل، اوبه ورباندې څښل، لیک ورباندې لیکل، د هر څه پاکول، له ځانه دفاع کول، حمله کول، قبول او تنفر کول، ویره او خپګان ورباندې ښکاره کول. دا یې هغه ظاهري اهداف او موخې دي.

مګر دلته په اشاروي او بدني ژبه کې د لاس له راوړلو او ذکر کولو څخه موخه د لاس مجازي معناګانې دي، لاس که د الله تبارک وتعالی لپاره ذکر شي، د الهي قدرت په معنا دی، لاس تړل د بخل ښکارندویې کوي، په غوړو کې ګوتې نیول د ویرې، دښمني معنا لري، لاسونه مروړل د حسرت او افسوس معنا لري، لاس په خوله ایښودل د سکوت په معنا کارول کیږي، لاسونه سره مږل په پښیمانتیا دلالت کوي، په مخ لاس راکښول د تعجب په معنا کارول کیږي.

دلته موخه هم له دې اشارو اوبدني ژبې څخه د هغوی مجازي معناګانې دي، څکه دویمې معناګانې له بلاغت سره تړلې دي، د مقالې عنوان ته په کتلو هم زموږ موخه دغه مجازي بلیغې معناګانې دي، هر کتاب چې د بلاغت او ادبي خوږلني څخه مالا مال دی، د دې اشاروي ژبې برکت ګڼل کیږي.(مهدي، ۱۴۰۰، ۲۴. مخ)

قراني بلاغي اشارې: انسانان د خپلو احساساتو د بیان لپاره له مختلفو مهارتونو څخه برخمن دي، بدني ژبه د انساني افکارو او خیالاتو ترجماني کوي، دغه مهارت د لغتونو د معنا له پراخوالي سره تربیتي او روزنیزي روانپوهنې کې قرار لري.

په قراني متن کې هم د بدني او اشاروي ژبې ذکر په کراتو مراتو راغلی دی، بدني او اشاروي رمزونه هغه موثر دلالتونه دي، چې د شنونکو پوهاوی ورباندې مهم دی، په قران کریم کې یوه نمونه د لاس حرکت دی، ډېرې بلاغي معنا ګانې لري او هماغه مؤثرې معناګانې هم انتقالوي، په لاندې ډول یې د څو یادونه کوو؛ بخل، تاسف، ویره، سکوت، غم، تعجب او حیرت یې شمېرلای شو،

د بدني ژبې وړاندې کول د بلاغي انداز مختلفې بڼې وړاندې کوي، جز د کل پر ځای، تشبېه، استعاري بڼې اشارې وړاندې کوي.(هنداوي،۱۹۹۵، ۲۸۳. مخ)

قران کریم د دواړو ډلو مومنانو او کافرانو تر منځ د ارتباط مهلت په همدې بدني ژبه وړاندې کوي، دلته یې په ذکر کولو سره حالت معلومېږي،هغه ځینې تفاوتونه چې د کفارو په حالت پورې تړلي دي لکه، استهزاء، انکار، حقارت او داسي نورې نښې لري.مومنان یې د غم، خوشحالي، شرم، روښانتیا او داسي نورو نښو لپاره استفاده کوي.(احمدي،۱۴۰۱، ۸. مخ)

انسان فطرتا هم په خپله حافظه کې د یو شي تمثیل په اسانۍ اخیستلای شي، دا ځانګړې حرکات له کلماتو په غیر پیغام او احساسات انتقالوي، دا نښې د تندي له تریو والي، خندا او نورو حرکاتو پورې تړلي دی.

په قران کریم کې اشاروي او بدنی اشارو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده، تر څو امت د دې رمزونو په غریزي او دروني معناګانو وپوهوي، دلته به یې د نمونې په توګه د لاس یادونه وکړو، د دې مهم غړي په مرسته د انسان د ژوندانه ډېرې کړنې تر سره کیږي، مګر اشاروي حالت یې د لفظ په ملتیا یا پرته له لفظ څخه د خپلو داخلي انګېزو او عواطفو د څرګندولو لپاره استعمالیږي، سره له دې چې لاس د انسان په یو غړي دلالت کوي، د نورو معنا ګانو لپاره هم کارول کیږي؛ لکه بډاینه، قدرت ځواک، نعمت، قوت، پاچاهي، فرمانبرداري، د خلګو ټولګي، پښېمانتیا او داسي نور...( مقیم،۱۳۹۵، ۲۵۲. مخ)

په قران کریم کې لاس په مختلفو ایتونو کې په مختلفو معناګانو راغلی دی، موږ به یې دلته یوازې د نمونې یادونه وکړو، په قران کریم کې د لاس اوګوتو ذکر بار، بار شوی دی او بېلې بېلې معناګانې لري؛ لکه (یجعلون اصابعهم في اذانهم من الصواعق...)(۱ : البقرة، ۱۹ایت)

پورتنی مبارك ایت د منافقینو په باره کې راغلی دی، چې له ویرې به خپلې ګوتې په غوږونو کې کېږدي، دلته په غوږونو کې ګوتې ښودل سره نور متناسب کلمات راغلي دي، چې په زړونو کې د ډار، رعب او وېرې فضاء را منځ ته کړي.

بل ځای( و یوم یعض الظالم علی یدیه...) (۱ : الفرقان، ۲۷ایت)

د جزا له لیدلو وروسته به دا ظالمان خپل لاسونه چیچي. یعني د ندامت اوپښېمانتیا معنا پکې له ورایه ښکاري.

د نبي علیه السلام په مبارکو احادیثو کې هم داسې اشارې راغلې دي، لکه ( بعثت انا والساعة کهاتين ) یعنې زه او قیامت دواړه یو ځای رالیږل شوي یو ( دواړه مبارکې ګوتې یې جوړه ونیولې ).

په نورو مبارکو احادیثو کې هم هم بار، بار دا موضوع تکرار شوې ده، نبي علیه السلام وویل( التقوی هاهنا ) یعنې پرهیزګاري دلته ده، خپل زړه مبارک ته یې اشاره وکړه.

( مقیم ،۱۳۹۵، ۲۵٦. مخ)

قران کریم چې یو دیني او د دعوت کتاب دی، د لاس د حرکت ډېر زیات صورتونه پکې راغلي دي، تر څو دا اشارات د بلاغي وسیلې په توګه چې د مؤثریت کچه یې لوړه ده وکاروي، تر څو حقایق په قناعت بښونکې او اسانه ډول ورسوي او ویده او ناخبره زړونه ورباندې راویښ کړي.

ادبي اشاروي ژبه : په معاصره پېړۍ کې تر ټولو د پوهاوي عمده ژبه غیر کلامي یا بدني او اشاروي ژبه ګڼل کیږي، دا نه یوازې احساسات او عواطف ښیې، بلکې نورو کسانو ته دا ښیې چې له ما سره څنګه اړیکه ولره، کېدای شي زه ونه توانیږم چې نورو کسانو ته په ژبه خپل بیان وکړم، مګر خپل احساسات د اشاروي او بدني ژبې، بدني حرکاتو په مرسته په غیر مستقیم مؤثر ډول وړاندې کولای شم، د عربي ژبې په معاصرو ادبیاتو کې ډېر داسې اثار شته، چې د اشاروي بیان تر ټولو غوره تګلارې ښیي، له څهرې نیولې، تر سترګو، لاسونو، پښو، لامسي حالات، ژړا، خندا او داسې نور حالتونه ځانګړې معناګانې لیږدولی شي.(غضنفر، ۱۴۰۳، ۲۱۲. مخ)

په نړۍ کې د نښو پېژندنې د یو علم په توګه تبارز کړی دی، چې اشاروي او بدني ژبه یې یوه ځانګه ګڼلای شو، ځکه دا ټولې اشارې او حرکات ځانګړې معناګانې او مفاهیم لیږدوي، دا په حقیقت کې رمزونه دي، چې موخه ځنې پیغام دی؛ ځکه په دې اشارو کې ځانګړې معناګانې پټې دي، د معنا انتقال په غاړه لري، د مفاهیمو د انتقال تر ټولو مؤثره لاره بلل کیږي، دا اشارې ځینې وخت حقیقي او ځینې وخت مجازي معناګانې نقلوي.(ناګار ، ۱۳۹۸، ۷۸. مخ)

اشاروي حرکات د افکارو او احساساتو د وړاندې کولو لنډه لاره ده، ترڅو خپل مقابل جانب په اسانه وپوهوي، دا اشاروي نښې فطري او اکتسابي دواړه بڼې لري، په بېلا بېلو فرهنګونو، ډلو او افرادو کې بېل حالتونه لري، د وروځو لوړول د تعجب په معنا ده، یا سر لوړاو ښکته ښورول د مثبت او تایید معنا لري، له یوه طرفه بل طرف ته وړل د نفي یا انکار معنا لري.

اشاروي یا بدني ژبه د انسان د داخلي مشاعرو؛ لکه رضایت، قهر، قبلول، ردول، تعجب او انکار څخه تعبیر کوي، لاس پراخول د ( سخاوتمندي نښه ) او لاس موټی کول( دبخل ) څخه کنایه ده،

په دې اشارو کې ډېرې ادبي او بلاغي تګلارې شته، د ادبي معناګانو يوه مالامال مجموعه يې ګڼلی شو.
موږ په ورځني ژوند کې پرته له کومې پوهې او سوچ څخه له ډېرو شيانو د اشاروي تماس له مخې معناګانې او مفاهيم اخلو او انتقالوو، يو لاس په بل لاس وهل د تعجب او حيرانتيا په موخه، د ګوتو په غاښ کول يا د نوکانو چيچل د ندامت او سوچ کې د ډوبېدلو په معنا، يوه ګوته د تهديد، ګواښ په معنا او داسې نورې معنا ګانې لري؛ ځيني ژبپوهان وايې؛ يوازې د لاس اشاره يې معناګانې تر اووه سوه پورې رسېږي.( مقيم،۱۳۹۵، ۲۵۶. مخ)
دا اشارې زياتره ادبي او ژبنۍ معنا په ګوته کوي، ځکه د ژبې مرستندويه برخه يې ګڼلای شو، چې په ځينو حالاتو کې يې معنا تر غږيزانداز په ايجاز او بې تکلفه وي، نو ځکه زموږ شاعرانو هم دا اشاروي اندازونه په خپلو اشعارو کې راوړي دي، چې د معنا او مفهوم سمندر يې په اشاروي کوزه کې ځای پر ځای کړی وي، دلته بې بېلګې د خپلو حالاتو سره راواخلو:
۱ـ د څېرې حالت: د انسان دعاطفي وضعيت ښکارندوی مخ او څېره ده، چې د انسان د دروني حالت په بيان کې تر ټولو مهم رول لري، مګر په څېره کې نورې برخې هم شاملې دي، خوله، غاړه، سترګې، وروځې قرار لري، ځيني وخت په مجموعي ډول پيغام لېږدوي، لکه غم،خوشحالي، ويره، غوسه، ردول، تردد او داسې نورې ښئې لري.

په څېره کې يې عجيب رازونه پټ وو
خدايزده ولې يې څېره کې غلی غم وو

(بېنوا،۱۴۰۰، ۸۵. مخ)

شاعر د څېرې حالت انځور کړی دی، په څېره کې د غم او خوشحالي ټول حالتونه معلومېږي، دلته په دې شعري بيت کې شاعر د دې پټو رازونو له جملې پټ غم په څېره کې ځرګند ښيې؛ تر شا يې د دې غم عامل ځرګندوي.
۲ـ سترګې غړول: سترګې هم د دروني احساساتو د بيان ذريعه ده، لکه علاقه، دوستي، صميميت، خجالت، بې ادبي او نور... سترګې غړول په حالاتو مراقبت کوي.

راشه وغړوه سترګې د جـــــــهان ننداره ګوره
چې ښايست لري په ستورو داسمان ننداره ګوره

په دې بیت کې د سترګو غړول د دروني احساساتو د بیان وسیله ده، دلته له سترګو غړولو څخه موخه په مجازي معنا د دې جهان ننداره ده، داکتنه د زړه په سترګو لیدل دي، تر څو د هر څه په راز او رمز وپوهېږي.

سترګې پورته په اداء زما افتاب کړې
که فتنه شوه د سحر په وخت بیداره

(ناګار،۱۳۹۵، ۱۷۱. مخ)

دا بیت کې د سترګو یادونه بل ډول راغلې ده، سترګې پورته کول په داسې ډول چې شاعر د عارفانه تجاهل په ډول ځان ناګاره اچوي، استعاري قوت یې د سترګو ناز لوړ کړی دی.

۳ـ ژړا او خندا: ژړا د دروني حالت په ښه ډول ورانديې کوي، د دروني غم، خوشحالي، ویرې او نا ارامي نښې پکې په ځپو ښکاري، سترګې او ژړا سره تړلي دي، ځکه زموږ شاعران دخپل دروني حالت د بیان لپاره په خپلو شعرونو کې راوړي. لکه سید رسول رسا وایي:

زه په سرو سترګو ژړا کړم چې ته درومې
ته له ما چې رخصـــــــــتېږې په خند ا ځې

(شیرزاد،۱۴۰۱، ۱۳۵. مخ)

یاد بیت کې ژړا هم د دروني حالت ښکارندویې کوي، ځکه ژړا د غم، خوشحالي، ویرې او نا ارامي نښه بلل کېږي، سترګې او ژړا سره تړلي دي، په بیت کې هم د غم څرګندونه کوي.
یا شمس الدین کاکړ وایي:

تور ویښته دې واړه سپین کړل په ژړا کې
سپیـــــــــــن مخ ولې توروې ته په ګناه کې

بیا هم د بیت له محتوی معلومېږي، چې ژړا دغم څرګندونه کوي، ویښته سپینېدل هم زموږ په عام ذهنیت کې د غم له امله ګڼل کېږي، حال دا چې غم یې هم مؤثر عامل دی، مګر د ویښتو سپینوالی ډېر عوامل لري.

(کاکړ، ۱۳۸۵، ۱۴. مخ)

د خندا موج یې په لب، راغله ګلفامه
په چمن کې کړ غنچې کمیس قبا

په پورته بيت کې بيا هم د خندا يادونه د دروني خوشحالي ځرګندونه کوي، تشبېه ورکوي له غنچې سره، چې د حسن تعليل په توګه د غنچې غوړېدل د خوښي او موسم سره موافقت نښه ګڼي.

۴ـ د لاس اشارې:

ګوتي ومنده په غوږو ترې تېرېږده
ذاکر زر ذکرونه کا، زړه يې په دام کې

(ختټک، ۱۳۸۸، ۴۱۲ . مخ)

په ياد بيت کې شاعر په (غوږو کې د ګوتو نيول) راوړي دي، مراد يې ويره ده، ياني هغه کس چې ظاهر او باطن يې توپيرولري، په خوله ذکر کوي او زړه يې د ناپاکۍ خازن وي، ويره او رعب ورڅخه په کار دی.

هرچا غوږ دواړه نيولي
محمدي و دې غزل ته

(شيرزاد، ۱۴۰۱، ۷۷. مخ)

په دې بيت کې هم شاعر يوه اشاره(دواړه غوږونه نيول) راوړي دي، چې مجازي کنايوي معنا يې توبه، قبلونه او ماتي ده، شاعر د شاعرانه تعالي او نرګيسيت له مخې د خپل شعر دومره ستاينه کړې ده.

د قبول ګوتې په پوه په ليمه کيږدي
که هجري په دا هنر وايې اعجاز کړم
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرې کا
هر چې کار کا د دښمنو په ورمونه

(ناګار، ۱۳۹۵، ۳۲۴. مخ)

په (سترګو ګوتي ايښودل) يو اشاري ترکيب دی، ځانګړې کنايوي مجازي معنا لري، د قبلولو او منلو معنا لري، شاعرد خپل شعر د توصيف لپاره شاعرانه تعالي راوړې ده، د خپل شعر ستاينه يې کړې ده، موخه يې دا ده چې که هر پوه او عالم زما شعر واوري سمدستي به د قبوليت ګوتي په ليمو کيږدي.

په بل بیت کې ( ورغوی په غاښ پرې کول) ترکیبي اصطلاح ده، اشاروي بڼه لري، کنایوي مجازي معنا یې ندامت او پښېمانتیا څرګندول دي، رښتیا هم د دښمن په لاړښوونه عمل د ندامت فصل او حاصل لري.

۵ـ لامسي حس:

دا یې زړه له تا موندلی نه دی، څه دی
رقیبان چې دې و ما ته اوږې مږي

(ناګار، ۱۳۹۵، ۳۲۴. مخ)

په دې بیت کې هم ( اوږې مږل) یو اشاروي بڼه ده، کنایوي مجازي معنا لري، شاعر په شعر کې راوړی دی، د چلنج او اخطار معنا لري.

غاښ چیچم له ضرورته، ګوندې خېژي
ما په غاښو دی نیولی زما روح

لاس په سر په تندي ایښی و هرچا ته
همدغه دی شرافت په دې دنیا

(زغم، ۱۳۹۹، ۳۰۳. مخ)

په پورته بیتونوکې هم لومړی( غاښ چیچل) راغلی دي، کنایوي مجازي معنا یې ګوزاره کول دي، له مجبوریته خپل حالت انځوروي.

په دویم بیت کې شاعر( لاس په سر او تندي ښودل) راوړې دي، مراد او موخه یې قدرداني کول دي، مګر اشاري حالت ترسیموي، چې دا اشاره د یو چا احترام او درناوی کول دي.

له پورته شعري نمونو څخه څرګنده شوه، چې اشاروي ژبه او حرکات د شعر په لنډ چوکاټ کې هم د ایجاز په ډول د شعر عمق دوه برابره کړی دی، په شعري او ادبي متونو کې هم اشاروي حالتونه او حرکات د معنا د لنډون او اسانه فهم لپاره راوړې دي.

## مناقشه

اشاروي او بدني ژبه د بیان له ژبې مؤثره لاره ده، د غریزې ژبې اکمال وربانديې کیږي، زموږ په ژبه کې تر اوسه پورې داسې په منظم او منسجم ډول کوم علمي اثر او مقاله وربانديې نه ده لیکل شوې، چې د دې اشاراتو بلاغي اړخ په ګوته کړي.

له دې سره سره چې دا مهارت ډېر پخوا یونانیانو او رومیانو کشف کړ، مګرپه قران کریم او نبوي احادیثو کې په منظم او منسجم ډول د ټولو مجازي معناوو په رعایت وپالل شو، زموږ په ژبو کې هم د کلام د مؤثریت او بلاغي اړتیا له مخې شاعرانو راوړی دی، چې دلته یې بېلګې مشت نمونه یې خروار له مخې راوړل شوي دي.

اشاروي ژبه تر غږیزي ژبې بلاغي ایجاز څکه لري، چې نه د انسان انرژي او نه یې وخت ورباندې ضایع کیږي، مګر بیا هم د احساساتو او عواطفو لیږد په موثر ډول په ایجاز سره سرته رسوي، د غږیزي ژبې ترڅنګ اشاروي ژبه ځانته اسلوب او په غږیزه ژبه کې ځانګړې ترکیبونه، اصطلاحات او تمثیلي انځورونه لري، چې د دې تمثیل او انځور په مرسته یې په اسانۍ سره زبده مفهوم اخیستلای شو، مګر که په پرتلیز ډول ووایو زموږ په ژبه کې د اشاروي ژبې باره کې د ګوتو په شمېر اثار لرو. چې د داسې علمي مقالو وړاندې کول به یې د غناء لاره وي.

## پایله

اشاروي حرکات د افکارو او احساساتو د وړاندې کولو لنډه لاره ده، ترڅو خپل مقابل لوری په اسانه وپوهوي، دا اشاروي نښې فطري او اکتسابي دواړه بڼې لري، په بېلا بېلو فرهنګونو، ډلو او افرادو کې بېل حالتونه لري، د وروځو لوړول د تعجب په معنا ده، یا سر لوړاو ښکته ښورول د مثبت او تایید معنا لري، سرله یوه طرفه بل طرف ته وړل د نفي یا انکار معنا لري.

اشاروي یا بدني ژبه د انسان د داخلي مشاعرو؛ لکه رضایت، قهر، قبلول، ردول، تعجب او انکار څخه تعبیر کوي، لاس پراخول د ( سخاوتمندي نښه ) او لاس موټی کول( دبخل ) څخه کنایه ده، په دې اشارو کې ډېرې ادبي او بلاغي تګلارې شته، د ادبي معناګانو یوه مالامال مجموعه یې ګڼلی شو.

اشاروي بلاغت تر غږیز بلاغت موجز او په لنډون سره راځي، د عبدالرحمن بابا په لاندې بیت کې یې لیدلای شو.

لاس په سر په تندي ایښی و هرچا ته
همدغه دی شرافت په دې دنیا

دا اشارې زیاتره ادبي او ژبنۍ معنا په ګوته کوي، څکه د ژبې مرستندویه برخه یې ګڼلای شو، چې په ځینو حالاتو کې یې معنا تر غږیزانداز په ایجاز او بې تکلفه وي، نو څکه زموږ شاعرانو هم دا

اشاروي حالتونه په خپلو اشعارو کې راوړي دي، چې د معنا او مفهوم سمندر يې په اشاروي کوزه کې ځای پر ځای کړی دی.

## اخځليکونه

القران الکريم
احمدي، محمد نبي.(۱۴۰۱ل). تحليل زبان بدن د متن نهج بلاغة. پژوهش های زبان شناختي د زبان های خارجي. شماره ۱بهار، صفحه پنجم.
بېنوا، عبدالرووف.( ۱۴۰۰ل). ادبي فنون.کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه.
ختيک، خوشحال خان.(۱۳۸۸ل).کليات.کابل: دانش خپرندويه ټولنه.
زغم، احمدشاه.(۱۳۹۹ل). معاصره ليکوالي.کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.
شيرزاد، محمد اقا.( ۱۴۰۱ل). ادبي فنون(بديع برخه).کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.
عطاشي، عبدالرضا.(۱۳۹۷ل). بررسي بلاغي زبان بدن در قران کريم. مجله زبان و ادبيات عربي. شماره هجدهم. صفحه دهم.
غضنفر، اسدالله .(۱۴۰۳ل). د ژبې ښکلا.کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه.
غوربندی، ميراجان.(۱۳۹۹ل). د ژبپوهنې مبادي.کابل: جهان دانش خپرندويه ټولنه.
کاکړ، شمس الدين.( ۱۳۸۵ل) .د شمس الدين کاکړ اشعارو ديوان.کابل: پښتو ټولنه.
مقيم، عبدالحی.(۱۳۹۵ل). په قرانکريم کې د لاسي حرکت بلاغي اړخونه. ننګرهار پوهنتون پوهه مجله ددې کال درېيمه ګڼه پرلپسې ۶۰ ګڼه، ۲۵۲مخ.
مهدي فاطمه، نجف پور چوبي عاطفه، زيرکوهي خديجه.(۱۴۰۰ل). تاثير زبان بدن در فرايند اموزش. ماهنامه علمي تخصصي پايا شهر. صفحه شانزدهم.
ناګار، فضل ولي.(۱۳۹۸ل). معاني. پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.
ناګار، فضل ولي .(۱۳۹۵ل). د بيان علم. ننګرهار: ناګارخپرندويه ټولنه.
هنداوي، عبدالله.(۱۹۹۵م). البلاغة القرانية في التصوير بالاشارة و الحرکة الجسمية. ط. الامانة، مصر.

Social Sceince
AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# An Overview of the Rhetorical Importance of Sign Language

Hamidullah Hamidi[*1], Nazir Ahmad Rishtany[2]
Department of Pashto, Faculty of Languages and Literature, Helmand University
*Corresponding Email:* hamidullahhamidi887@gmail.com

## Abstract

Allah Almighty has endowed human beings not only with intellect but also with diverse expressive abilities. One of these is the ability to express emotions not just verbally but also through gestures and body movements, which serve as powerful tools for conveying inner feelings in an effective and implicit manner. These gestures often carry broad meanings with psychological and educational foundations. Despite being non-verbal, gestural language also serves as a medium for expressing human thoughts and ideas. Every culture has developed its own set of gestures to communicate agreement, rejection, respect, happiness, sorrow, grief, love, acceptance, honor, mockery, and more. Some of these gestures have achieved universal recognition, while others remain specific to individual communities for mutual understanding. Although rhetoric is traditionally associated with verbal language, gestural language holds an even higher rhetorical status. It is not limited to people with disabilities; rather, it complements spoken language. Research shows that verbal communication constitutes only 30–40% of human interaction, whereas gestural language accounts for 60–70%. The foundations of gestural language were laid by the Greeks and later developed by the Romans. With the rise of Islamic civilization, it reached new heights of sophistication. These gestures appear in three forms: conventional, pictorial, and instinctive. The focus here is on instinctive gestures, which carry metaphorical and figurative meanings. Gestural expressions are also found in the Holy Qur'an, highlighting their effectiveness in conveying deep meaning. In literature, such

gestures are used as artistic and emotional elements to enhance rhetorical beauty. For example:

*"Eventually, he will bite his own hand in regret."*
*"Whatever one does to others will eventually return to him."*

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

| Volume:1 | Issue: 2 | Year:2025 |
|---|---|---|